بسم الله الرحمن الرحيم

## اسلامي دولت؛ له ظلم څخه د لږکیو د خلاصون حلاره

په پوهنتونونو کې محصلین لیبرال آندونو منلو ته هڅول کیږي او ورته ویل کېږي چې دا د انصاف او لږکیو منلو یوازینۍ لاره ده. که چیرې لیبرال آندونه ونه منو، نو موږ به د لږکیو پر وړاندې تعصب او ظلم کړی وي. کله چې دنیا ته وګورو چې د لږکیو پر وړاندې بده رویه کیږي، لیبرال اندونه نور هم راته ښکلي ښکاري. هغوی وایې په غیرلوېدیځ هېوادونو کې چې لږکي ځپل کیږي لامل یې دا دی، چې تاسو په کافي اندازه لیبرال شوي نه یاست او په لوېدیځو هېوادونو کې چې ظلم کېږي لامل یې څو تنه فاسد چارواکي دي نه ټول سیسټم.

دا خبره یې سمه نه ده.

له دلیلونو سره سره برعکس، بشري حقونه نیمګړي دي. په ټولنه کې دایمي کړکېچ شته او دا چې څوک به واکمن وي او واکمني هغه ته دا واک ورکوي، چې خپلې غوښتنې او کلتور په نورو پلی کړي؛ هغوی چې په واک کې نه دي، نو د هغوی اساسي بشري حقونه نه دي تضمین شوي.

په اسلام کې هرڅه بل ډول دي. د لږکیو په نوم هېڅ نشته. یوازې دا ده چې ایا د اسلامي دولت تبع یې او که نه او د اسلامي دولت تبع کېدل په دې مانا چې له تاسو څخه بدني او مادي ملاتړ کیږي.

«په اسلامي دولت کې له ټولو وګړو سره د مذهب، نژاد یا بلې هر ډول موضوع پرته یو ډول چلند کېږي. اسلامي دولت د خپلو اتباعو پر وړاندې د هر ډول تبعیض څخه منع شوی، که هغه حکمي، قضایي یا د خلکو چارو ته لاسرسی وي.» (د خلافت دستور 6 ماده)

همدارنګه «د دولت هر بالغ تبع حق لري چې د امت مجلس غړی شي، نر او ښځه مسلمان او غیرمسلمان دا حق لري. خو د غیر مسلمانانو ګډون په دغه مجلس کې په دوو کارونو پورې محدود دی، چې د حکامو له ظلم او د اسلام له نه تطبیق څخه شکایت وکړي.» (د خلافت دستور 103 ماده)

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوْ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»** ( ابو داود)

***ژباړه:*** *چا چې په معاهد ظلم وکړ یا یې خوار کړ یا یې د هغه له توان څخه ډېر مسؤلیت ورکړ یا یې یو شی د هغه له خوښې پرته ورڅخه واخیست، د قیامت په ورځ زه د هغه مخالف یم.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم همدارنګه فرمایلي دي:

**«مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا»**(بخاري شریف)

***ژباړه:*** *څوک چې معاهد(غیر مسلمان معاهد) ووژني هغه به د جنت بوی و نه ویني او د جنت بوی له څلوېښتو پسرلیو پیدا کیږي.*

لکه څرنګه چې موږ وینو له اسنادو داسې ښکاري چې په اسلامي دولت کې توپیر یوازې د مسلمان او غیرمسلمان اتباع ترمنځ شته. خو دا توپیر په دې مانا نه دی چې د اتباعو چارو ته دې یو ډول لاسرسی نه وي. دولت ته دا جواز نه لري چې د رعیت تر منځ د ژبې، رنګ، نژاد، جنسیت او دین پر اساس توپیر او تبعیض وکړي او مکلف دی چې له ټولو سره د چارو په رسیدګی کې یو ډول چلند وکړي.

ځینې خلک وایي چې د مسلمان او غیر مسلمان اتباعو تر منځ توپیر تبعیض دی، ځینې حقوق مسلمانانو ته ورکول او غیر مسلمان ته نه ورکول لکه په سیاسي ډګر کې د ګډون حق.

د دې لپاره چې پوه شو داسې نه ده، باید د اسلامي شریعت په واقعیت پوه شو. اسلام د ژوند ټولو چارو ته پراخ سیستم لري. که څه هم چې دا سیستم له اسلامي عقیدې څخه سرچینه اخلي، خو په معنوي بُعد پورې تړلی نه دی. همدارنګه د داسې قوانینو وړاندې کوونکی دی، چې د دولت په دننه کې تطبیق کېږي. کله چې اسلام د دې نظام د تطبیق امر کوي، د قوانینو او شریعت د تطبیق امر، نه د معنوي او دیني کارونو. په همدې ډول، د شرعي احکامو عملي کول د دولت په ټولو اتباعو کېږي، په استثنا د ځینو دیني اعمالو، چې هلته د هغوی خپل دین غالب دی، په نورو ځایونو کې دین په پام کې نه نیول کېږي.

اسلام انسان ته د انساني صفت په سترګه ګوري او قوانین یې هم د انسان فطرت مطابق جوړ کړي. اسلامي قوانین د انسان ستونزې د انساني فطرت مطابق ځواب کړي، نه له کوم بله پلوه. ستونزې حل غواړي او ستونزې

د فطرت مطابق حل شوي دي.  مثلاً اسلامي احکامو کې تبعیض هېڅ ځای نه لري. دا په دې مانا نه ده چې اسلام د ټولو موضوعاتو په اړه ټولو خلکو ته یو واحد حکم وړاندې کوي، بلکې په خپل شریعت کې ځانګړې موضوع او د هغې مشخصاتو ته، چې موضوع ته مناسب او د مشکل سره سم حلاره وړاندې کړي، ډېر پام کوي. مثلاً کله چې اسلام د نر او ښځې اړیکه تنظیم کړه د هغوی ځانګړتیاوو ته یې پام کړی. همداشان د مسلمان او غیر مسلمان موضوع دواړه توپیرونه لري، نو ځرنګه بیا د دواړو لپاره یو ډول احکام په پام کې ونیول شي د دواړو واقعیتونه توپیر لري؛ دا تبعیض نه دی، بلکې له واقعیت سره سم حکم کول دي.

د مثال په ډول، د حاکم کېدو لپاره اسلام مسلمانتوب شرط ایښی، چې غیر مسلمان دا حق نه لري چې حاکم شي او حکم وکړي. ځکه چې اسلامي دولت اسلام په داخل کې پلی کوي او نړۍ ته یې د دعوت او جهاد له لارې لېږدوي. په اسلامي دولت کې د حاکم دنده او رول په اسلامي احکامو راڅرخي او د خلکو روابط د اسلامي احکامو پر اساس تنظیموي او اسلام د دعوت له لارې نړیوالو ته رسوي. نو د پورتنیو کارونو لپاره دا اړینه ده، چې یو څوک باید په اسلام باور او عقیده ولري، هم یې پلی کړي او هم یې  تر نورو ورسوي دا ممکنه نه ده چې یو څوک دې په اسلام باور ونه لري هغه دې پلی او تر نورو ته ورسوي.

په شریعت کې ډېر داسې شرعي احکام شته، چې اهل‌ذمه ته یې حقوق ورکړي، چې مسلمانانو ته یې هغسې حقوق نه دي ورکړي، بیا هم، دا د مسلمانانو او اهل‌ذمه پر وړاندې تبعیض نه دی، د هغوی د باورونو او عقایدو پر اساس چې کفر او اسلام دی، په ځانګړو موضوعاتو کې یې احکام بیل دي. شارع پر مسلمانانو باندې زکات واجب کړی، چې په اهل‌ذمه نه دی واجب دا ځکه چې زکات عبادت دی او پر اهل‌ذمه باندې عبادت واجب نه دی. شریعت پر مسلمانانو د اړتیا په وخت کې مالیات واجب کړي په داسې حال کې چې په اهل‌ذمه یې نه دي واجب کړي د دې لپاره چې له جزیې زیات نور څه ورڅخه وا نخیستل شي. همدارنګه شارع اهل‌ذمه ته اجازه ورکړې، چې د خنزیر غوښه وخوري او شراب وڅښې او هم یې وپلوري. په داسې حال کې چې پر مسلمانانو دا کار حرام شوی او هغوی مجازات کېږي.

که چیرې په شرعي احکامو کې  ژور فکر وکړو، دې پایلې ته رسېږو، چې په اسلام کې اهل‌ذمه ته تر مسلمانانو ډېر حق ورکړل شوی دی. حقیقت دا دی، چې د خلکو تر منځ او د خلکو پر وړاندې هېڅ ډول لوړوالی او توپیر نشته، بلکې خلکو ته د هغوی د اوصافو مطابق حقوق ورکول کېږي.

موږ دا ډول کړنې په خلافت کې لرو. کله چې د بدر په غزا کې جنګي اسیران ونیول شول، هغوی د دې پر ځای چې خپلو خلکو ته ورشي لومړیتوب یې دې ته ورکړ، چې له خپلو خلکو سره پاتې شي (د مسلمانانو د ښه چلند له امله) او کله چې مسیحیان په صلیبي جګړو کې د مسلمانانو خواته پاتې شول. سره له دې چې په بل دین

وو، خو هغوی ته حقوق ورکړل شول او له هغوی څخه ملاتړ وشو. ځکه چې بشري حقوق هغوی ته د الله تعالی له لوري ورکول شوي دي، هغوی د اسلامي دولت له لوري ملاتړ شول او دا کار به انشاءالله په نیږدې وخت کې بیا ترسره شي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته!**

**فاطمه مصعب؛ د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**1443 هـ.ق، د رجب 27مه**

**2022م، د فبروري 28مه**

**#خلافت تاسیس کړئ**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**#أقيموا_الخلافة**

**#الخلافة_101**